# الله پاک پر خپلو بندګانو تر دې ښځې ډېر مهربان دی، لکه ځومره چې دا په خپل کوچني مهربانه ده

د عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی چې: نبي صلی الله علیه وسلم ته بنديان راغلل، ګوري چې له بنديانو څخه د يوې مېرمنې سينې له شيدو ډکې دي، چې ناڅاپه يې په بنديانو کې يو کوچنی وموند، نو راپورته يې کړ، سينې ته يې واچاوه او شيدې يې ورکړې، نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم مونږ ته وفرمايل: «آيا ګمان کوئ چې دا ښځه دې خپل ماشوم اور ته وغورځوي؟» مونږ وويل: نه، که چېرته د دې ځواک ولري چې اور ته يې ونه غورځوي، نو هغه وفرمايل: « الله پاک پر خپلو بندګانو تر دې ښځې ډېر مهربان دی، لکه ځومره چې دا په خپل کوچني مهربانه ده».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هوازن قبيلې څو اسيران راوستل شول، چې په دې کې يوه ښځه د خپل ماشوم په لټه کې وه، کله چې هغې خپل ماشوم وموند، هغه يې واخيست او شيدې يې ورکړې ترڅو سينه کې د شېدو ډېريدو له امله له درد څخه خلاصه شي، نو سينې ته يې جوښت کړ او شيدې يې ورکړې، نو نبي صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه وو ته وفرمايل: آيا فکر کوئ چې دا ښځه دې خپل ماشوم اور ته وغورځوي؟ مونږ وويل: هغه به يې په خپله خوښه ونه غورځوي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: الله تعالی پر خپلو مسلمانو بندګانو لدې ښځې - پر خپل کوچني - زيات مهربان دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10095